SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
څلورم کال شپېتمه ګڼه پرله پسې (۱۰۲۵) چهارشنبه د ۱۴۲۰ هـ ق کال د جمادى الاول (۷) و ۱۳۷۸ هـ ش کال د زمرې دمیاشتې (۲۷) د ۱۹۹۹ میلادي کال د اګست (۱۸)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ځکه چې همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهيزګاري) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

محترم معاون شوراي سرپرست از ولسوالي هاي دره نور و خیوه دیدن بعمل آوردند

تلاش هاي مذبوحانه مخالفین درمربوطات ولسوالي اسمار به شکست کامل مواجه گردید

محترم مولوي عبدالکبیر معاون شوراي سرپرست و رئیس تنظیمیه زون شرق از ولسوالي هاي دره نور و خیوه ولایت ننګرهار بازدید به عمل آوردند.

آژانس اطلاعاتي باختر از شهر جلال آباد خبر میدهد: در جریان این بازدید ابتداء محترم معاون شوراي سرپرست از شجاعت و پایمردی مردم و مجاهدین ولسوالي هاي متذکره در جهت دفاع از ارزش هاي نظام اسلامي ابراز قدرداني نموده و از آنان خواست تا در مقابل توطئه هاي خائنانه مخالفین بیدار بوده از هیچ نوع تلاش درین رابطه دریغ نه نمایند.

بعداً عده یی از مردم و مسؤولین ولسوالي هاي متذکره یک بار دیگر ابراز آمادګي نمودند که مجاهدین که با همه توان در هرګونه شرایط توطئه هاي دشمن را در نطفه خنثي خواهند نمود.

خبر می افزاید: مخالفین امارت اسلامي که قصد داشتند دیروز طی یک توطئه خائنانه نظم و امنیت درولسوالي هاي مذکور را مختل نمایند خوشبختانه در اثر بیداري و مقاومت به موقع مجاهدین اردوي اسلامي توطئه آنان خنثي گردید که در اثر آن ده ها تن از افراد مفسد و جنګ طلب در منطقه کشته و تعدادي نیز اسیر و زخمي ګردیدند.

خبر علاوه کرد توطئه دشمن فراري د تیوب در دست نل اول توسط مجاهدین اردوي ص ٤

له شل کلن ځنډ وروسته:

د کابل پولي تخنیک د اړوند، پوهنځیو د پراکتیک دوره تر سره شوه

د کابل پولیتخنیکي د بیلا بیلو پوهنځیو د محصلانو د پراکتیک او د عملي کارونو دوره له شل کلن ځنډ وروسته د افغانستان د اسلامي امارت د واکمنې په پیل کښت سره سږکال بیا پیل او تسخیر‌ امتحانات پای ته ورسېدل.

د کابل پولیتخنیک رئیس او په پراکتیکي چارو کې د محصلانو د مشرتابه هیأت رئیس محترم ملا محب الله نسیم د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال ته وویل: د لوی خدای (ج) ٤ مخ

کارکنان هفته نامه شریعت هشتادمین سالروز استرداد استقلال پر افتخار کشور را به حضور عالیقدر امیر المؤمنین، شوراي محترم سرپرست، سنگر نشینان نستوه و قاطبه ملت رنجدیده افغان تبریک و تهنیت میگویند.

د اسلامي امارت اقتصادي کمیسیون غونډه وکړه

د اسلامي امارت د اقتصادي کمیسیون غونډه پرون د پلان وزارت په مقر کې جوړه شوه.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکوي دغه غونډه چې د پلان وزارت د سرپرست او اقتصادي کمیسیون د رئیس محترم قاري دین محمد حنیف په مشرۍ او د مخابراتو وزارت د تخنیکي معین محترم ملا عزیز الله اخند د افغانستان بانک د دویم مرستیال محترم مفتي عبدالمنان دیوبندي او د مالیې سوداګرۍ اوبو او برېښنا او د کانونو او صنایعو وزارتونو اود خصوصي بانکي اجونسي د غړو او ٤ مخ

د کابل پوهنتون د لیلیې په ټول کمپلکس کې د برېښنا بهیر تأمین شو

د اسلامي امارت د چارواکو د خاص پاملرنې په نتیجه کې:

د کابل په ... کې د ... کابل پوهنتون کې د یوه ... دولسي ... په پرله ... دغه پرهنتون د لیلیې په ټول کمپلکس کې پرون د برېښنا بهیر تامین شو. د باختر اطلاعاتي آژانس ٤ مخ

د بغلان ولایت بیلا بیلي اداری چاري وڅیړل شوي

د بغلان ولایت د بلا بیلو امارتي ادارو چارې او اجراات ددغه ولایت اړوندو ارګانونو د یوه ګډ هیئت لخوا وڅېړل شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکوي دغه هیئت چې د ولایت د سقاه ... څارنوالي ریاست د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست امنیه قومندانۍ مستوفیت، د مرافعه محکمې ... او د بغلان ولایت د استخباراتو د ... د استازو په ترکیب ددغه ولایت د ... ښار اداري او ... ٤ مخ

مهاجرین شمال کابل در گفتگو با خبرنگار هفته نامه شریعت:

تفنگداران مسعود منازل ما را به مراکز نظامي مبدل نموده بودند

ما به خاطر حفظ ناموس و حیات خویش از مناطقي تحت اثر مسعود به کابل مهاجر گردیدیم

شریعت: چنانچه خوانندگان ما اطلاع دارند در این اواخر ... اهالی مسلمان شمالي ... نجات از ظلم و تجاوز ... هاي مسعود به شهر کابل ... آورده اند. خبرنگار ما غرض معلومات از احوال مهاجرین مذکور حضرط مقدم جبهه دیدن نموده و گزارش را ترتیب نموده که اینک خدمت خوانندگان محترم تقدیم میگردد.

خلیفه محمد یعقوب گلکار یک تن از موسفیدان که در جمله فامیلهاي مهاجر بر بستره اي در کنار سرک سراي شمال تکیه زده بود و خود را از قریه داودزي ولسوالي قره باغ معرفي نمود در باره انگیزه هجرت خود به کابل چنین اظهار داشت: تفنگداران مسعود اسلحه ثقیل خویش را در باغها و بالاي بامهاي ما به زور جا بجا نموده و از منازل ما سنگر نظامي ساخته بودند که در جریان جنگ یک مرمي به گناه خانه ما ص ٤

جمیل ...

د درېند په کلي کې د يوه جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د بامیانو ولایت د کهمرد ولسوالي د ورېند په کلي کي د يوه جومات په جوړولو سره ددغه کلي د سلګونو تنو اوسیدونکو لپاره د لمانځه د ادا کولو زمینه برابرېږي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکوي ددغه جومات د بنسټ ډبره چې د سیمې د خلکو په همکاري له ټولو ملحقاتو سره بې په اساسي ډول جوړېږي ورمه ورځ په داسي حال کې ٤ مخ

قواي روسي در داغستان میخواهند اوضاع را به سود خویش تغیر دهند

قواي روسیه در داغستان میخواهند علیه شورشیان مسلمان اوضاع را به سود خویش تغیر بدهند.

یک نظامي قواي روسي در داغستان گفته است که همه ارتفاعات ستراتیژیک در اشغال آنان میباشد.

بوریس یلتسین رئیس جمهور روسیه گام هاي تعیین کننده را براي حفاظت قواي روسي اعلام داشته است وي در عین زمان بر قراري حالت اضطراري را در سر تا سر کشور بخاطر جنگ در داغستان رد نموده است.

د خپلواکی په لار کې د افغانانو قرباني

۲ مخ

په ترکیه کې یوې سختې زلزلي پنځه سوه تنه مړه او په زرګونو تنه نور يې ټپيان کړل

د هغې سختې زلزلې له امله چې پرون سهار په ترکیه کې وشوه څه د پاسه پنځه سوه تنه ووژل شول او په زرګونو تنه نور ټپیان شول.

د نړیوالو خبري سرچینو د څرګندونو له مخې ددغې پېښې له امله د سر د زیان د شمېر د زیاتوالي امکان شته. دغه زلزله چې سختوالي يې د ریکټر په مقیاس شپږ اعشاریه اوه درجې وه پرون سهار د ترکیې مرکز لویدیځې او شمال لویدیځې سیمې ولړزولې. ددغې زلزلې مرکز د استانبول د خلیج د ایزمیت په صنعتي ښار کې ثبت شویدي چې دغه ښار ته د سر درانده زیانونه اوښتي دي.

او زیات شمېر اوسیدونکي وژل شویدي د ترکیې خبري آژانس وویل د استانبول او ایسپکي د ص ٤

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د زمري ۲۸ مه د زمریانو د یادونو ورځ

خپلواکي په هر چا ګرانه ده مګر نړۍ مثلي ده چې په افغانانو تر بل هر چا ډېره ګرانه ده، دا له دي امله چې مسلمان قام د خپلي مسلماني چلولو لپاره خپلواك او ازاد ټاټوبي ته اړتیا لري د مسلمانانو هغه ټاټوبي چې د کافرانو تر واکمني لاندي وي د مسلمانانو ملي حیثیت خو لاپرېږده خپلو اسلامي شعائرو، عبادتونو او اسلامي زده کړو ته یې واکمن کافران نه پرېږدي،

الحمد لله افغانان په ملي شهامت بر سېره پاخه مسلمانان، په پاخه اسلامي عقیده او سپېڅلي ۲ مخ

هشتادمین سالروز حماسه آفرین استرداد استقلال کشور مبارکباد

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دبیو گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸٥}{۷}$ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

اسلامي عمل سمبال دي، له کله نه چي، الله تعالی د ایمان دولت او د اسلام رڼا په دغه سیمه او افغانانو پېرزو کړي ده افغانانو د خپل ناموس، خپلو اسلامي شعایرو، اسلامي عبادتونو او اسلامي تعلیماتو د خوندي ساتلو لپاره د خپل ټاټوبي د خپلواکي ساتنه د خپلو ملي او شرعي دندو په سر کي ټاکلي ده او ددغه مطلب لپاره یې دجهاد او قرباني لاره کلکه نیولي ده؛ د افغانانو ټاټوبي د جغرافیې له مخي د زمکي په داسي سیمه کي پروت دي چي د ختیز او لویدیز ، شمال او سویل د څلور لاري (چارسو یا چوک) حیثیت لري نو ځکه د تاریخ په اوږدوکي چي هر لوري ته پیاوړي کفري ځواک را ټوکیدلي دي ددغي څلور لاري لاندي کولو او نیولو ته یې خوله اوبه او به شوي ده او خپل نابریالي بخت یې وربانديي ازمویلي دي،

چي له نور تاریخ نه یې تیر شو یوازي د نولسمي میلادي پیړي له نیماي نه یې را واخله د شلمي میلادي پیړي د دویمي لسیزي تر پایه پوري انګریزانو چي د هغه وخت مادي زبر ځواک یا سوپر پاور یې ځان ګاڼه او د واکمني په یوه لوري کي به یې چي لمر پریوت په بل لوري به یې ختلي و دري واره ددغه ټاټوبي (افغانستان) له میړنیو غړونو سره یې سرو جنګاوه او هر ځل یې ماغزه باد باد شول، دا نن یې چي مونږ لمانځود دوي د تیري د شرمیدلي ماتي وروستي ورځ(۱۲۹۸/٥/۲۸ش) ده له دغي ماتي وروسته بیا د هغې اوږدي او پلني امپراتوري زوال پیل او کراره کراره یې پلیته کمبله ټوله شوه!

د شلمي میلادي پیړي په اتمه لسیزه کي بیا د وخت یو بل ستر مادي ځواک ورک شوي شوروي اتحاد ددغه میړني ټاټوبي په کمزورتو خپل ماغزه باد باد کړل او د نړي د جغرافیې له نقشي نه هم پسي ورک شو !

د شوروي په خلاف د جهاد په وختونو کي به چي مونږ د هیواد په سویلي او ختیزو پولو تلو او راتلو د انګیرز په ضد جهاد کي به مو د خپلو شهیدو او میړنیو نیکه ګانو قبرونو ته فاتحه لوستله او د دوي ستګرونو ته به مو سلامونه کول نو د هغو اتلو او میړنیو مجاهدو نامتو مشرانو ناليدلي څیري به مو تر سترګو شکته پورته کیدلي او سنګرونو به یې د حال په ژبه د میړاني، قربانیو او اسلامي جهاد درسونه راکول چي په هغو کي د ټل او پیاوړستګرونه د هیریدلو وړنه دي،

افغانان به تل دغسي د میړاني او بري ورځي لمانځي تر څو د خپلو اتلو شهیدانو کرامو «رح» ارواو ته د ختمونو او خیراتونو ثوابونه وبښي او له بلي خوا د هغوی د سپیڅلو شرعي ارمانونو د پوره کولو لپاره خپلې زمني یو ځل بیانوي کړي،

په دغه کار سره به راتلونکي نسلونه هم د اسلامي جهاد، خپلواکي ساتني او میړاني بې شمیره درسونه په پټه خوله زده کړي او عبرتونه به واخلي.

انشاء الله

په غربي قاموس کي د آزادي مفهوم

ابو احمد «مهاجر»

ازادي اوخپلواکي یوه طبعي پدیده ده چي په بشري سرشت کي پرته ده دبشري ټولني هروګړي غواړي چي له همدي فطري ازادي اوخپلواکي نه په بشپړه توګه برخمن اومستفیدوي اوبه خپلوټولوکړووړو، ویلو او د ژوند په اړونده مسایلوکي ازادژوندوکړي له همدي کبله دملګرو ملتونو دبشري حقونونړیوالي اعلامیي په لومړي اونولسمه ماده کي دبشري ازادي په هکله داسي راغلي!

۱- ټول انسانان ازاد ،خپلواك په انساني حقونواوانساني کرامت کي مساوي پیداکیږي.

۲- دبشري ټولني هروګړي دبیان، فکراواندیښني دازادي حق لري غوبه غربي ټولنه اوبه ځانګړي توګه دامریکي دحاکمو چارواکو په نزد دهمدي بشري ازادي اوخپلواکي مفهوم بیابل شانتي دي مثلاًدهغوي په نزد کـه یوانسان دخپلوشهواتي غرایزود اشباع په لارکي هرڅومره ازاد ،خپلواك اوخپل سري وي دادهغه سالم اومشروع بشري حق شمیرل کیږي اوهیڅوك حق نلري چي وربانديي اعتراض وکړي .

چي نیکاره مثالونه یې دامریکي دمتحده ایالاتوجمهوررئیس بل کلنټن جنسي علایق له مونیکالوینسکي سره اوهمدارنګه دهغه دمیرمني هیلري کلنټن جنسي اړیکي دسپني ماڼي له څارنوال ونسنت فوسترسره دي.

خوکـه هلته بوڅوك بیاداانساني اخلاقوتعالي اوله یوې سپیڅلي عقیدې نه ددفاع په منظورغرپورته کوي اوياله هغه نه حمایه کوي له هرلورنه محکومیږي ،ګواښونه ورته کیږي ،بندي کیږي ،اوبالاخره له منځه وړل کیږي اودهغه دغه

کار ددوي په اصطلاح دټولني دسوله ایزوهڅو په ضدیواقدام بلل کیږي چي زمونږ دیورتني ادعادثبوت لپاره ډیردلایل شته دي خودلته یې فقط یودنمونوني په توګه لیکو: د۱۹۹۳ دسامبر په۲٦ دامریکادنړیوال تجارت په مرکزکي یوه چاودنه ترسره شوه چي په نتیجه کي یې یوشمیرامریکایان مړه اوژوبل شول دامریکایي چارواکو لخوادهمدي چاودني اوالزام او پړه دمصر داسلامي جماعت په نابیناروحاني مشرعمرعبدالرحمن باندي واچول شوه ،دهغوي په لاس کي ددي الزام دثبوت لپاره له یوه راډیویي کیسټ نه سوا بل هیڅ شی نه وو.

چي په همدي کیسټ کي شیخ عمریوه مذهبي وینا کړي وه اودهغي په ترڅ کي یې په غـرب اوتیوله نړي کي دریواه سـوده اواحتکارمرکزونه دفسادځایونه بللي وو. او ویلي یې و چي دا مرکزونه باید له منځه ولاړ شي . نومـوړي دامریکادمرکزي محکمي لخوافقط دهمدي دینيموعظي په جرم په عمري بند محکوم شو

شیخ عمرعبدالرحمن چي فعلاً ٦٤ کلن دي برسیره پردي چي نابینادي ډیري نوري صحي ستونزي لکه دقلب ضربان،دشکري اوجګرناروغي.......لري .

خوهغه له دي ټولوستونزوسره سره بیاهم دهغه هیواد لخوا چي په ټوله نړۍ کي ځان دآزادي یکه تازبولي په ابدي حبس کي دژوند ډیري ترخي شپي تیر وي دنوموړي هغه اطاق

چي دي پکي بندي دي دځــانـې ډیر تنګ للـوسـلو په زریعه ٢٤ ساعته ترشدید مراقبت لاندي دي په بشپړه ساعت کي د ١٥ دقیقو لپاره اجازه لري چي له خپلې میرمني سره تیلفوني خبري وکړي هغه هم پداسي توګه چي حرفاً حرفاً د هغه موظف څارونکي له په انګلیسي ژبه ترجمه شي دهغه دقانوني همکاراحمدعبدالستار له پرته لـرهیڅوك حق نلري چي له هغه سره لیدنه اوملاقات وکړي

دمحبس دامنیتي څارنوالونه خوا شیخ عمر د شدیدمراقبت په هکله دهغه قانوني همکاراحمدعبدالستارروایې چي یوه ورځ شیخ عمرترسختوامنیتي تدابیرو لاندي دجمعي دلمانځه د ادا کولولپاره مسجد ته بوتلل شو هلته امام دخطبي ویلو په مهال په یوه قرآني ایت کي خطاشو شیخ عمرپه جهرسره دهغه خطاوراصلاح اوهغه ایت یې په صحیح صورت ورته تلاوت کړ.

پدي حالت کي یوناڅاپه شیخ عمر دهغه دامنیتي څارو نکي لخوا تراوږدوسوال شواوله مسجدنه بهرته را ایستل شو.

هغوي دامکروکړچي ګواکي شیخ عمر په همدي لحظه کي دخپلومخالفینو په خلاف لمونځ کوونکومسلمانانونه دقیام او پاځون غوښتنه ورکړه چي پدي ترڅ کي دشیخ عمراودهغه دڅارونکوترمنځ منځال جوړشوال لردي چي خبله دمسجدامام راغلي اووي ویل چي زیېښناهم ژه دقرآني ایت په ویلوکي خطا شوم اوشیخ عمرصحیح هغه راښووڅ سړي

[illegible] جي دبشرد حقونو مدافعینو اوبه دي موکراسي اوازادي پلوبوامریکایانوقبه حرکت څرنګه تعبیروي.

ایاریښتیاهغوي دخپلوموضوعه قوانینو رڼاکي انسانانوته دهغوي دفکري اوبیاني ازادي حق ورکړي!

ایاریښتیا په نړي کي دامریکایي چارواکونه دازادي اوخپلواکي په حقیقي واقعي مفهوم استعمالوي؟

دبشرد حقونوکمیټه اونورمسول جهتونه هم په ډیر سترګوورته ګوري اوته وسي چي ددوي سرزوري امریکا نړیوالوحاکمانواسلامانانو ته لوم [illegible] فکري اوبیاني ازادي قایله ده که په کومه اشاره ملګري ملتونیانوکي جنایتکار [illegible] کشمیرکي ناسپ هندوان اوکه په فلسطین کي اشغالګر یهودیان په مظلوموامسلمانانوهرڅه کوي هغه دهمدي جنایتکارانوفکري اوعملي ازادي په معناتلقي کیږي اوهغوي لاري کاریه نګول کیږي خوکه په افغانستان کي داسلامي امارت چارواکي چي په خپل اسلامي هیوادکي اسلامي حکومت رغول کیږي اساسه ابن لادن اوشیخ عمر چي له اسلامي عقیدوانونه قولي دفاع کیږي هغوي هم دغـږښیانوادهم دبشر دحقونوکمیټي لخوامحکومیږي اودهغوي دغه عملکړید دفکري اوبیان اوبه دعمل ازادي بلل کیداي شي

نوریښتیاهم چي په غربي قاموس کي ازادي له خپلې اصلي اواصطلاحي معنا نه سوا بله معنا او ځانګړي مفهوم لري

۲۸ اسد ۱۲۹۸ سالروز استقلال کشور

درست هشتاد سال قبل این ملت مجاهد و کفر ستیز با رشادت و پایمردی اسلامی در مقابل بزرگترین

امپراطوری استعماری جهان دست به جهاد و مقاومت اسلامی زد و به سیطره استکباری بریطانیای به اصطلاح کبیر که بیش از یك قرن بر مستعمرات خود تسلط داشت خاتمه داد .

۲۸ اسد به مثابه روزی که ملت مسلمان و مجاهد ما هر بار با بزرگداشت از این روز درفش وحدت ملي، استقلال ، یکپارچگی سلحشوری و مبارزه علیه اجانب بر افراشته و با تعهد به راه پاك نیاکان خویش پیمان خود بخاطر حفظ استقلال تمامیت ارضی همبستگی، جهاد و جانثاري را تجدید میکنند.

از هشتادمین سالگرد استقلال کشور در شرایطی تجلیل بعمل آورده میشود که هنوز هم در کشور کفر شکن ما جنگ ادامه دارد و دشمنان این ملت کفر شکن جهت شعله ور ماندن این جنگ تلاشهاي پیگیر خویش را ادامه میدهند.

درس بزرگ تاریخ طي دو قرن اخیر براي ملت غیور و قهرمان ما اینست که

استقلال، آزادي، تمامیت ارضي و استعمار شکني کشور ما در گرو وحدت ملي افغانها بوده است هر وقتیکه این وحدت لطمه دیده است آنگاه راه براي مداخله بیگانگان به این خطه اسلامي باز شده است. نیاکان ما زماني استکباریت مستکبرین جهان را بار خاك یکسان ساخته که متحدانه در مقابل آنها صف آرایي نموده که نوشته هاي زرین تاریخ شاهد خوبي بر مدعاي ماست.

انګلیسها دو بار با قواي اشغالگر خود وارد افغانستان شدند بار نخست در سال ۱۸۳۹ با سپاه ٥٤١٥۰ نفري زیر نام و نقاب شاه شجاع حرکت کرده از طریق قندهار وارد کابل گردیدند ولي آنها روز خوشي در افغانستان ندیدند.

در سال ۱۸٤۱ انقلاب مجاهدین افغان مشتعل گردید و ضربه هاي سنگیني بالاي مستعمرین انگلیسي وارد نمودند که از اثر آن مستعمرین اشغالگر فرار را بر قرار ترجیح داده مجبور به ترك افغانستان

شدند، یگانه شخصی که از همین ضربات کوبنده مجاهدین افغان جان سالم بدر برد داکتر براېډن بود که از حوزه کابل تا جلال آباد از سر نعش صدها افسر انگلیسي که بدون قبر و کفن افتاده بودند با تن مجروح گذشته و خود را به جلال آباد رسانید.

به این صورت یك صفحه از تاریخ افغانستان که با هجوم دولت انگلیس در سال ۱۸۳۹ آغاز شده بود با شکست کامل قشون آن در سال ۱۸٤۲ پایان یافت.

بار دوم انگلیس ها در نوامبر ۱۸۷۸ با یك سپاه تقریباً ٦۰ هزار نفري مجهز با انواع و اقسام سلاحهاي مدرن به کشور ما یورش آوردند اما درست ٤٥ روز بعد از مداخله انگلیسها قیام عمومي از کابل شروع شد بالاخره جنگ بعد از مقاومت دلیرانه ملت مجاهد، پس از یکسال و نه ماه رسما در سال ۱۸۸۰ با فرار ننگین انگلیسها از کشور ما پایان یافت.

مردم مسلمان افغانستان با قیام مورخ

۱۹۱۹م مطابق ۱۲۹۸ خورشیدي خویش در مقابل قواي ۳٤ هزار نفري انگلیسها در محدود هاي خیبر، چترال، کندهار، بکتیا، وزیرستان، و ... با شجاعت و مردانگي رزمیدند و طي ماه هاي مي و جون سال ۱۹۱۹ انگلیس ها را مجبور نمودند استقلال کشور ما را برسمیت بشناسند. انگلیسها طي سه جنگ با مقاومت سرسخت ملت قهرمان افغانستان مواجه گردیدند سر انجام استقلال کشور ما را به رسمیت شناخته و به شکست فاحش خود معترف شدند که درین مورد [illegible] سیاستمدار مشهور انگلیسي [illegible] اظهار داشت : ما انگلیسها به تنها یکبار بلکه چندین بار با تحمل خسارات سنگین جاني و مالي درسهاي مهمي در مورد افغانستان یاد گرفتیم. ما از نیروي مقاومت افغانها آگاه شدیم . این ملت رشید و جنگي در دشت هاي خوفناك و کوه هاي صعب العبور وطن نشان داد که با چه فداکاري جنگیده و از آن دفاع کردند.

محمد رفیق "عزت"

ګرانو هیوادوالو اتن بیا هغه ورځ لمانځو چي زړونو افغانانو له سور مخو انګریزانو څخه خپله سپیڅلي خاوره خپلواکه کړه او هغوی یې وشړل د اسد ۲۸ د افغانستان په تاریخ کي یې ساري ارزښت لري او د خپلواکي د ورځي په نامه نومول شوي ده . افغان مجاهد ملت هیڅکله هم په خپل ګران هیواد کي هیڅ بهرني قوت ندی زغملای . هر چا چي دی خپلواك هیواد ته خپلي ناپاکي سترګي را اړولي سترګي

یې په ایستل شوي دي.

له دې خړې خاورې چي ئن سره ګلونه را ټوکیږي دا د هغو پاکو وینو برکت دی چي هر پسرلي دا خړه او غیرتي خاوره رنګینه وي زمونږ ګران هیواد د خپلواکي لپاره نه یوازي چي د زلمو سرونه قربان کړي بلکي ددې خاورې مسلمانو میرمنو او پیغلو هم پوره ونډه پکي اخستي چي نمونه یې د میوند جګړه ده هلته چي د دښمن پوځونه د پر زیات او سخته ګرمي وه له

مسلمانانو مجاهدینو سره [illegible] له ټنډي د غرچا لاسونه ... [illegible] چي د افغانستان سپیڅلي بیرغ یې په لاس کړ ... د انګریز ... [illegible]
شهادت ... [illegible]
خپلو لاسو د افغانستان سپیڅلي بیرغ پورته کړ ... [illegible]
په لوړ او خواږه آواز پورته کړه

که په میوند کي شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

د ملالۍ له دې ویر سره د مجاهدینو غوږونو ... [illegible]
... [illegible] د اسلامي ... [illegible]
او په دښمن یې قیامت ... [illegible]

آزادی

به یاد بود استرداد استقلال کشور

عبدالرقیب «جهید»

رسـا وهم بجـیـا باشـد سـخن از نام آزادي
رسـیـده خـوش نصـیـب ما ز حق انعـام آزادي
دیار و هم تبار مـا مجـاهد پرورند یکسـر
سـرشـتند فطرت مـا را بي الهـام آزادي
بـر آزادي و آزادگي ملت و کـشـور
همـه قـربان اسـلامیم براي کـام آزادي
نگر اوراق تاریخ وطن حـمـاسي مـردان
بخـون خـود شنا کـرد ن به تن احـرام آزادي
سپـاه وحـشي انگریز نمـودیم تارو مار بنگر
به عـزم آهنین در سـنگر گلفـام آزادي
دژ بیداد نگون کـردیم قـشـون سـرخ را نابود
به گـیـتي گـسـتـریدخوش ارمغـان پیغـام آزادي
مبـارك یوم آزادي «جهید» گفت در پیام خود
بسي خوش قیـمـتي دارد شـهـید جام آزادي

آزادي

شعر گل احمد یار

آزادیم زیپه‌دلی آزادي لپـاره ژوند کـړم
همت می د شـهـبـاز ده اسـارت نشم منلی
زه تندر د آسـمـان یم په هر ځـای کي د دېښمن لره
لوړ نوم لرم افـغـان یم حـقـارت نشم منلي

ژوندي اوسي وطنه

قتیل خوږیاني

د زړه هره کـشـره مي سـتـا له خـاوري نه قـربان ده
وطنه دا سـتـا مـینه زمـا برخـه د ایمـان ده
نه پت نه مي عـزت بي نه مي شـان نه مي شـمله بي
بچـو نه توده غـیـږه د دېښمن په سـر حـمـله بي
دفـاع دي زمـا ژونده فـریضـه د هر افـغـان ده
وطنه دا سـتـا مـینه زمـا برخـه د ایمـان ده
غـیـرت دي په هوا او په نعـمـت باندي ژوندي دي
همت د نومـیـالیـو سـتـا په پت باندي ژوندي دي
وزر نه د گـور پښودي فـضـا شـوکت وشـان ده
وطنه دا سـتـامـینه غـوره برخـه د ایـمـان ده
ژوندي اوسي وطنه سـتـا شـمـله دي وي اوچتـه
کـابل به دي د زړه په شـان پرېنوځي له هـیـتـه
همـدغـه فـیـصـله د مـیـړنیـو په جـهـان ده
وطنه دا سـتـا مـینه زمـا برخـه د ایـمـان ده
کـابل به دي ژوندي وي حـسـو چي زړه وهي پهرېـونه
زانگو د مـیـړنیـو ده کـړي وباړ پري غـورځنګونه
نامـه دي خـوږ وطنه ترانه د زړو او حـوران ده
وطنه دا سـتـا مـینه زمـا برخـه د ایـمـان ده
د سـیـمي هره برخـه دي پروني د پښـتـو دي
خـپلواك را پاتي شـوي هر ټاټوبي د جـرگـو دي
دا خـاوره مي قـتـیله هم غـزله هم داسـتـان ده
وطنه دا سـتـا مـینه زمـا برخـه د ایـمـان ده

له نظره لویدلي

محمد نعمان دوست

څو کتاب د تاخچي منځ ته یه زړا شو
ولي ، چا مي مخ نه خاوري لري نه کړي
موده وشوه له نظره یو لویدلي
څوك مي نه اړوي گوتو باندي پاڼي
د تیاري خوني د بام له ور روزالم
نري باد ځان سره ورو گونگوسه راوړه :
آه !
ناته یاد دي ما یه څه شوق وي ساتلي
په رنگینو د سمالو مي دي پوښلي
مانه هیر نه بي ملگریه!
راته یاد دي پخواني تللي وختونه
چي تر تیمو شپو به ویښ راسره ناست وي
راته یاد شي ستا خواږه خواږه تکلونه
خو اوس :
گرانه! ما نه خپه نشي
زه هم خاورو لاندي پروت یم

د شعر او ادب
لري
چي کـسـتـور د شـعـرانو سـعـادتونه
د ادبیاتو ... خوراك كړي

د حضرت عمر فاروق "رض" نصایح

– له نابسو څخه هغه څوك غوره ندي چي آخرت لپاره عمل کري او دنـیاي هـیره کـړي وي او یا هغـه څـوك چي اخرت بي پرېښي وي او دنیا لپاره کار کوي، بلکه غوره څوك هغه دي چي د دنیا څخه هم برخه واخلي او له اخرت څخه هم .
– د یو چا په اخلاقو باندي تر هغي باور او اعتماد مکوي تر څو مو چي د قهر او غوسي په حالت کي نه وي ازمویلي.
– د خلکو څخه د هغوي په مجلس کي یا په جوماتو کي د څه شي غوښتنه مکوي تر څو هغه ونه شرمیږي ، بلکه د هغوي په کورونو کي ترینه غوښتنه وکړي تر څو چي څومره بي په وس او توان کي وي غوښتنه درسره وکړي.
– خلك د خپلو پلرونو او نیکونو په نسبت د خپلي زماني سره زیات ورته والي لري .
– که یو سړي د شـئ په شان سپیده او راست کاره هم وي، بیا به هم د هغي ملامتونکي موجود وي .
– زه په دریو خبرو ډیر تعجب کوم لومړي دا چي انسان له مرگ څخه تیښته کوي، خو هغه به ضرور ورسره مخامخ کیږي بله دا چي کله یو انسان د خپل ورو ر په سترگو کي کثافت وگوري نو په هغي انتقاد کوي پداسي حال کي چي د خپلي سترگي کنج نشي لیدلای . دریم دا چي د انسان په لاس تربیه شوي خاروي کي که کوم عیب او کوږوالي وي نو هغه به رفع کړي ولي د خپل نفس کوږوالي نه رفع کوي .
– کوم سړي چي خپل راز پټولاي شي د هغه خپل اختیار په خپل لاس کي وي .
– له چا څخه چي تاسي نفرت کوي، له هغه نه ووېرېږئ .

راټولونه : احمد شاه «وحدت»

د خپلواکۍ په لارکې د افغانانو قرباني

ډاکتر محمد نذیر «احمد زی»

زیاتره تر یوال به دي قـانع دي چي افغانان په نړۍ کي تر هر چا زیات خپلواکي غوښتونکي او خپلواکي خوښوونکي خلك دي . کومي قرباني چي افغانانو د تاریخ په اوږدو کي د خپلي خپلواکي د ساتني لپاره ندرانه کړي د نړۍ تاریخ بي ډیر کم سـیـال موندلای شي. که د تاریخ پاڼي پرانیزو نو لیدل کیږي چي حتی تر اسلام د مخه هم افغانانو د یو غیرتي او پر خپلواکي مین ولس په توگه ژوند تیر کړي او کله چي داسلام رڼا ددي میړني ولس زړو ته ننوته بیا خو په دوي کي د خپلواکي او غیرت نوي ساه وچلیده او تر هر چا په دي ډگر کي تر مخه شول . د تاریخ په شاهدی لمړی ځل کوم بهرنی ځواك چي د افغانانو پر خاوره تیری وکړ او پر افغانانو بي د حکومت خیال درلوده، هغه د فارس د هخا منشي کورني پادشاهان وچي تر میلاد د مخه په اوومه پیړي کي بي د کوروش پاچا په مشـري پر افـغـانـسـتـان برید وکړ هغـه له ٥٤٥ نه تر ٥٣٩ ق م پوري غني پوره شپږ کاله بي هڅي وکړي تر څو افغانانو له پولي را تیر شي، زمونږ نیکونو له هغوی سره سختي مقابلي وکړي او په پای کي په ٥٢٩ ق م کي په یوه جگړه کي د افغانانو لخوا ووژل شو، تر دي پېښي وروسته په څلورمي ق م پیړۍ کي د نومـوړي کـورني یو بل پاچا چي په دریم داریوش مشهورو پر افغانستان باندي د برغل تکل وکړ ، په دي وخت کي افغانانو یو ځل بیا سـه میړانه وښوده، سره را تول شول او د « بسوس » په نامه یو زړه ور ځوان بي خپل پاچا وټاکـه بسوس : فـارس پاچا دریم داریوش ته ماتي ورکړه او هغه بي ووا ژه ، تر فارسیانو وروسته یونانیانو په ٣٣٠ ق م کي د مـقـدوني اسکندر په مشـري زمـونږ پر خاوره برغل وکړ ، کومي مقابلي چي زمونږ نیکونو د یونان له یرغ سره وکړي، هغو پښنو دا سکندر قوت او هود مات کړ هغه پوره څلور کاله په افـغـانـسـتـان کي بند پاتي شـو او د افغانستان په شرقي برخه کي په یوه جگړه کي ټپي هم شـو تر مـقـدوني اسـکندر وروسـتـه د اسلام تر رارسیدو پوري بیا پر افغانستان کوم تیری ونه شو ، د اسلام د سپېڅلي دین بلنی نه افـغـانانو په پراخه تنده او پوره اخلاص لبیک وواېه، که څه هم په لمړی سر کی هغه وخت چي افغانان لا د اسلام په نیگو نه نه و پوه شوی له اسلامی لښکرو سره بی سختی جگړی وکړی او هغـه په دی خـیـال چی مگر عربی لښکری د پخوانیو تیری کوونکو په شان کوم تیری کوونکی ځواک نه وی، خو کله چی هغوی پوه شول چی داسـلام مـجاهدین بشریت ته د نیکمرغی او خپلواکی پیغـام له ځانه سره راوړی او کوم مادی مطلب نلری نو اسـلام بی تر هر چا سـه ومـانه او د اسـلام د خپرولو په لار کی بی بی ساری قربانی ورکړی او په لکهاو انسانان بی د اسلام په نور روښانه کړل ، کله چی د خلفای راشدینو دوره تیره شوه او اسـلامی خلافت په پاچاهی بدل شو ، افـغـانانو یو ځل بیا د خپلواکی ملا وتړله ، د اموی او عباسی پاچاپانو په وخت کی بی په خراسان کی د خپلواکی غورځنگونه پیل کړل لمړی ځل د افغـانسـتـان د سرپل د سیمی یو ځوان د ابو مسلم خراسانی په نامه په ٧٤٦ م کـال کی د اموی حکومت پر خـلاف را پاڅید او په ٧٥٠ م کی بی تر کـوفی پوری تولی سیمی ونیولی او د عباسی کورنی یو تن بی چی ابو العباس سفاح نومیده خلیفه وټاکـه ، له ابو مـسلم سره وروستی پلان د خپلی خاوری خپلواکی وه ،خو د سفاح د ورور منصـور لخـوا په ٧٤٥ م کی په ډېره ناځوانمردانه توگه ووژل شو تر ده وروسـتـه د بلخ برمکی کورنی د افغانستان د خپلواکی لپـاره ډیری قـربانی ورکـړی خـو هغـوی هم بریالی نشـول او خـپل ځانونه بی له لاسـه ورکـړل ، په پای کی فـوشنجی طاهر چی یو تور زن غـیـرتی افـغـان وو ځوانان تر ځان راټول کـړل او د خـپلواکی هیله بی یو ځل بیا را ژوندی کړه د مامون رشید د لښکرو د مشرتابه مقام ته ورسید او ٨١٣ م کی بی بغداد د مامون لپاره ونیو، وروسته طاهر د خـراسـان والی شـو او چی کله هیـواد ته راستون شو د خپلواکی اعلان بی وکړ او په ٨٢١ م کی بی په افـغـانسـتـا ن کی د طاهریانو د کورنی خپلواکه حکومت جوړ کـر بیـا ډیر کلونه زمـونږ په هیـو د کی د خـپلواکی بیـرغ په رپاوو تر څو چی په ١٢٢١ م کی چنگـیزی لښکری زمـونږ پر هـواد را پرېوتی د مغلی لښکرو په مقابل کی هم افغانانو بی ساری سرښندنی وکړی او څو ځله بی چنگیزیان مات کړل ، د هغه لسـی بی ووژه، په تالقان، گرزیوان، بامیـان، سیـسـتـان، هرات او پروان کی د مغلو خلاف د افغانانو کارنامی زمونږ د تاریخ وپاړونه جوړوی .

تر مغلي وحشت وروسته د ماوراالنهر شیباني پاچاپانو ، د ایران صفوي کورني او د هند بابري حکمرانانو هم په افغانستان کي خپل بخت وازمایه خو ټول تور مخ او گوزو مات بیرته وتښتیدل ، د گرگین وژل او د میرویس نیکه په لاس په افغانستان کي د خـپلواك دولت جـوړیدل او بیا وروسـتـه د بوده قوي ، یو موټي او خپلواك افغانستان منځته راتگ زمونږ د نیکونو د قربانیو بدله ده چي د احمد شاه بابا میراثه په کي د ویاړ ورده .

د ابدالي کورني د حکومت په پای کي انگریزي ښکیلاک گرو زمونږ پر خاوره د پاچاهي خوب ولید هغوي له خپل ټول ځواك او پوره ساز و سامان سره زمونږ پر خاوره تیري وکړ خو د خپلو تیر یو یا بلي بي ترا یسه هم هیري کړي نه دي لمړي ځل په ١٨٤١ م کي د انگریزانو خلاف زمونږ د نیکونو پاڅون انگریزي ښکیلاك ولړزاوه، د هغوي کال د روژي په ١٧ چي د لومړي له دوهمي سره برابره وه افغانانو ملي قیام وکړ او د مکناټن په وژلو سره بي انگریزان له افغانستان څخه وتلو ته مجبور کړل دوهم ځل د ١٨٧٩ کال په د سمبر کي افغانانو د انگریزي لښکر پر خلاف پاڅون وکړ او جهاد اعلان شو دا ځل هم انگریزانو داسي ستي ورکړل شو چي لا تر اوسه هیران پاتي دي ، د ١٨٨٠ په جولای کي د میوند ویاړمنه جگړه هم زمونږ د نیکونو د میړاني بله بیلگه ده چي تر خپلواکي پي ځانونه جار کړي دي په لومړي جگړه کي د پښتني ملالي دا ناره چي که په میوند کي شهید نشوي خدایږو لالیه بي ننگي ته دي ساتینه

اوس هم ولسونه پاخېدلای شي او د خپلواکي په لار کي د پښتو پیغلو غیرت او سرښندنه سبي ، په پای کي افغانانو دریم ځل د ١٩١٩ م کال د مي او جون په میاشتو کي د انگریزانو پر خلاف ملي او اسلامي جهاد اعلان کړ چي انگریزي یرغل بي پر ځمکه را گوزار کړ ، د هغوي په چ یهیو وروخښل او تر سرحد ور واوښتل هـمـاغـه وچي انگریزانو د خپلو نورو مـسـتعـمـرانو د له لاسـه وتلو له ویري د افغانستان خپلواکي د تل لپاره ومنله او بیا تر ننه پوري پر خپل ځای کـښیناسـتل چي نن زمونږ د مجاهدو نیکونو د همدغي میړاني اتیایم کـال دی او مونږ یي په ډېر ویاړ نمانځنه کوو ، که څه هم انگریزانو ته د افغانانو سبق تر ډیرو کلونو د نړیوالو لپاره د زده کړي مثال و خو په ١٣٥٨ هـ ش کي روسانو بیـشـرمي خپله کړه او زمونږ پر خاوره بي تیري وکړ چي الحمد لله زمونږ یا تورو مجاهدینو د هغوی پښي ورماتي کړي او په زړبدلو سترگو بي له افغانستان څخه وشړل انشاءالله چي د تیري کوونکو په مقابل کي به زمونږ اوسنی کـارنامي د یرو کلونو لپاره مثال وي او څوك به بیا زړه ښه نه کړي چي زمونږ خاوري ته په کږه سترگه وگوري او که دا غلطي هم وکړي د روسانو برخلیک به بي په انتظار کي وي، په پای کي د یادوني وړ بولم چي دوایم خپلواکي د پر ستر الهي نعمت دی زمونږ د نیکونو او ورونو د وینو په بیـه تر لاسـه

شوی، او زمونږ د ژوند سر چینه ده که خدای مکړه چي خپلواکي نه وی بیا نو په حقیقی معنی ژوندی هم نه یو، ځکه چي هر مسلمان افغان ددی بی ساری ستر الهی نعمت شکرانه ادا کړی او د ساتلو په لار کی بی هر راز قربانی ته تیاری ولری .

د کابل پوهنتون د لیلیو په ټول کمپلکس ...

خـــر راکړ کـابل پوهنتون د هیـواد د ډیري سابقه لرونکي او ستري تحصیلي موسسي په توگه ملي او نړیوال اکادمیکي هویت لري چي د تیر فاسد رژیم په دوران کي د بي مفهومه جګړو په بهیر کي زیات مالي او اقتصادي تاوانونه ورته رسیدلي دي او د هغي ځیرني له محي چي د مهندسانو او ماهرانو لخوا شویده دغه ستر علمي مرکز ته اوښتي تاوانونه څه دپاسه شپیتو ملیونو امریکایي ډالرو ته رسیږي.

دغه راز د ترانسفارمر د هغو خوارلسو دستګاوو له جملي نه چي په اتو سټیشنونو کي يي د کابل پوهنتون ټولو برخو ته برېښنا ویشله ټولي يي وبجاړي لوټ او سوزیدلي دي او په تیـــرو اتو کلونو کي د لیلیي محصلانو د زیاتو ستونزو په ګاللو سره د لاینونو له لاري په کمزوري روښنایي سره ژوند کاوه او خپل تحصیلي فعالیتونه يي تعقیبول. د افغانستان اسلامي امارت له زیاتو اقتصادي ستونزو او مشکلاتو سره سره د لیلیي ودانۍ بیا جوړي کړي د ځیرګنونو بسترو تشنابونو روغتیایي کلینیک په ګډون د اباتي تجهیزات او دري وخته د روغتیایي خوړو د برابرولو په لاره کي يي د سالم نظم د اعاده کولو شرایط برابر کړل او د اسانتیاوو د برابرولو په لاره کي يي د پاموړ خدمتونه کړیدي.

او په دي وروستیو وختو کي د وفا د خیریه موسسي په مرسته په شپږ سوه ملیونو افغانیو په پنځه سوه کیلو واټه پنځلس زره ترانسفارمر برابر او د اوبو او برېښنا وزارت د انجینرانو او کارګرانو لخوا د لیلیو په برقي سټیشن کي ودرول شو او مونتاژ شو. او پرون د یوي غونډي په ترڅ کي د لوړو زده کړو وزارت او د کابل پوهنتون د مشرتابه هیأت لخوا پرانستل شو او دلیلیو په ټول کمپلکس کي د برېښنا بهیر تامین شو.

په هغي غونډه کي چي له غونډي امله د کابل پوهنتون د کنفرانسونو په تالار کي پرون جوړه شوه لومړي د کلام الله مجید څو مبارك ایتونه ولوستل شول او وروسته د لوړو زده کړو وزارت علمي او تخنیکي معین محترم قاري ذبیح الله زاهد د کابل پوهنتون رئیس محترم مولوي پیر محمد روحاني د وفا د خیریه موسسي د مدیره هیأت سرپرست محترم داکتر عبدالولي وردګ د پلان وزارت معین محترم الحاج محمد موسی هوتك د کابل د طب د موسسي رئیس محترم مولوي محمد فاضل او یو شمیر نورو برخه والو په وار سره د تحصیلي موسسو محصلانو ته د لازمو علمي او آموزشي اسانتیاوو د برابرولو په باره کي اوږدي خبري وکړي او د وفا د خیریه موسسي د همکاریو له امله يي مننه وکړه چي په اوسنیو شرایطو کي يي د ترانسفارمر په برابرولو او د کابل پوهنتون په لیلیه کي د برېښنا د بهیر د ښکي په احیا کولو کي کړیدي.

د وفا د خیریه موسسي د مدیره هیأت سرپرست محترم داکتر عبدالولي وردګ د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال ته وویل: د هغي غلاقي له مخي چي د وفا خیریه موسسه يي د افغانستان له اسلامي امارت سره لري د تر سره شویو کارونو سربیره په نژدي راتلونکي کي د ژوندانه د چاپیریال د ساتني په برخو او په میوه لرونکو اوبي میوو ونو باندي د علمي ځیړنو د تر سره کولو د کرني د پوهنځي د تحقیقاتي فارم د احیا کولو د څښاك د اوبو او د کرني د ځمکو د خړوبولو د اوبو د ښکو د برابرولو او د کابل پوهنتون د علمي تحقیقاتو د مرکز د پیاوړي کولو په برخو کي کاري پلان د وفا د خیریه موسسي د مرستي د راتلونکي

پروګـــرام یوه برخـــه ده چي د افغـانســتان د اسلامي امارت د اړوندو ارګانونو په همکاري به ګام په ګام په پوهنتون کي عملي شي.

د بغلان ولایت ...

احرار او لعاسر... د خبري په مقصد کومال شوي د ... په بهیر کي يي دغه ولایت د بیلابیلو ادارو فعالیتونه وڅیړل او پرون يي د سیلو پخم لسر کام: **غوري برېښنا د تصدي ملي بس، د پلخمري د افغان نساجي او د شمال د ډیرو سکرو د تصدي د ریاستونو د کتني په ترڅ کي د غوري سمنټو د تصـــدي د ریاست چارواکـــو او کارکوونکو په غونډه کي چي د بغلان د والي محترم ملا نور الله نوري په**

مشري ددغي تصدي په مقر کي جوړه شوي وه ګډون وکړ.

ددغي غونډي په بهیـــر کي ددغي تصدي د مالي تخنیکي تولیدي او د نورو برخو د امرانو د څیړني په ترڅ کي د **اوسنیو مشکلاتو یادونه هم وشوه. وروسته د بغلان محترم والي د اړندو ادارو د منسوبینو دخدمتونو له امله د قـدرداني په ترڅ کي د امارتي ادارو د اوسنیو ستونزو او مشکلاتو د لري کولو په لاره کي اړوندو چارواکـــو ته لازمي دندي وسپارلي.**

پیښي او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

قواي هوايي اسرائيل بار ديگر به جنوب لبنان حمله نمود

قواي هوايي اسرائيل پريشب بار ديگر اهدافي را در جنوب لبنان تحت حمله قرار داد. هليكوپتر هاي جنگي اسرائيل دو قريه و يك دره را كه خارج از منطقه امنيت اسرائيل بودند مورد بمباران قرار دادند.

د امریکا او روسیي تر منځ د اتومي وسلو خبري پیل شوي

د امریکا د متحده ایالاتو او روسیي ماهرانو پرون په مسکو کي د اتومي وسلو د خبرو نوي پړاو پیل کړ.

دوي خبري د اتومي سرونو او د سالت د تړون په باب دي.

د هند عالي محکمي د یوي مجلي رئیس د ناوړو عکسونو د چاپولو له امله ملامت کړ

په هند کي یوي محکمي داسي حکم صادر کړ چي له ي وروسته دي د کورنیو په مجلو کي دي پر هندو او ګمراه کوونکو عکسونو له چاپولو نه ډډه وکړي.

دغه راز له اړوندوادارونه غوښتنه شویده چي په دي برخه کي کلکه پاملرنه وکړي. د هند د هیواد عالي محکمي د یوي مجلي رئیس په مستقیمه توګه چي ناوړه عکسونه يي چاپول ملامت کړیدي.

د هند په مطبوعاتو کي د بربنډو او ناوړو عکسونو د چاپولو له امله په هند کي زیاتو مسلمانو کورنیو په اعتراض لاس پوري کړي او ددغي مطبوعاتي اداري په ضد يي اقدام کړیدي خلکو له دولت او هندي محکمو نه وغوښتل چي د هغي اداري پر ضد چي په دغه شان ناوړه عمل چي هدف يي د پیسو لاس ته راوړل دي کلك اقدام وکړي ځکه ددغه شان خبرونو چاپول د کورنیو د په تیره بیا په ټول هند کي د ځوروني سبب شویدي.

محترم معاون شوراي ...

اسلامي و به همكاري مردم محل دفع و خنثي گرديده و عاملين آن توسط قوت هاي امارت اسلامي چنان سركوب و به جزاي اعمال شوم شان رسيدند كه احـــاد شش تن آنان در منطقه باقي مانده و قوماندان محمد دين نيز با هشت تن ديگر از افراد تحت قوماندة اش طي اين توطئه به هلاكت رسيده است.

همچنان دراثر ضربات كوبنده مجاهدين اردوي اسلامي كه ديروز بالاي توطئه گران وارد گرديد يك قوماندان ديگر مخالفين بنام خانجان مفقود الاثر شده و تعدادي از افراد دشمن بطور زخمي به اسارت نيرو هاي مجاهدين اردوي اسلامي در آمده است. خبر مي افزايد: مجاهدين اردوي اسلامي كه از مورال عالي محاربوي برخوردار ميباشند كاملاً بر منطقه حاكم بوده و نظم و امنيت مطمئن همانند گذشته در منطقه حكمفرما گرديده و اهالي مسلمان ولسوالي هاي خيوه دره نور و ديگر ساحات در فضاي كاملاً اطمينان بخش و عاري از تشويش به زنده گي روز مره شان ادامه ميدهند.

قرار يك خبر ديگر تلاش هاي مذبوحانه و مخربانه دشمن در مربوطات ولسوالي اسمار ولايت كنر با شكست مواجه گرديده و عاملين آن توسط مجاهدين اردوي اسلامي سركوب گرديدند.

عناصر مفسد و جنگ طلب كه ميخواستند حوالي صبح ديروز با اجراي حملات دزدانه و رهزنانه شان امنيت ولسوالي اسمار ولايت كنر را مختل سوده سبب آزار و اذيت مردم گردند لله الحمد توسط مجاهدين اردوي اسلامي سركوب گرديده و عاملين اين توطئه و دســـته به همكاري مردم به جزاي اعمال شان رسيدند. در جريان اين حملات دزدانه دشمن متحمل تلفات سنگين جاني و مالي گرديده و راه فرار را در پيش گرفتند.

خبر مي افزايد: قوت هاي امارت اسلامي نه تنها بر ولسوالي اسمار تسلط كامل داشته بلكه تمام ساحات ولسوالي هاي نحوكي و نرنگ را در كنترول خود داشته و امنيت كامل در آن مناطق تامين ميباشد. دشمن با اين همه تحركات و تبليغات كه در ولايت كنر به همكاري باداران خارجي خويش عليه حاكميت اسلامي از ديروز به اين طرف براه انداخته است و هيچگونه دست آوردي در قبال نداشته بلكه بر عكس تبليغات زهراگين آنها مردم اين ساحات در آرامش كامل بسر برده و با همكاري نزديك شان با امارت اسلامي در تعقيب و سركوبي دشمنان و عناصر مفسد و جنگ طلب ميباشند دشمن با اين همه تبليغات زهراگين تحركات رهزنانه ميخواهد مورال افراد شكست خورده شان را در ديگر مناطق تقويه نموده و موجوديت خود را تثبيت نمايند.

در واقعيت امر دشمن كاملاً در انزواي سياسي و نظامي قرار گرفته و با تجريد كامل از ملت مجاهد افغانستان به زنده گي مخفيانه در لانه هاي شيطاني در گوشه يي از كشور ادامه ميدهند و اميد واريم كه روزي دست مردم گريبان آنان را گرفته و آنان را از مغاره هاي شان بيرون كنند.

په ترکیه کي یو ي ...

ښارونو زیات شمیر اوسیدونکي شهیدان شوي هم دي.

دغه راز د دغي زلزلي له امله د زلزله ځپلو ښارونو په تیره بیا د استانبول ښار د برېښنا اوبو او د ټیلفون مزي شلیدلي دي او د استانبول او انقري لویه لاره هم د پله د نړیدلو له امله تړل شویده. د امریکا د کلورادو د زلزلي پوهني اداري د ترکیي د پرون سهار د زلزلي سختوالي د ریکتر په مقیاس اوه عشـــاریه اته درجي اعلام کړیدي.

تفنگداران مسعود منازل ...

اصابت نموده و آتش در خانه ما در گرفت چند لحظه بعد مليشه ها فرار نمود و طلبه هاي كرام وارد منطقه شدند چون منزل ما سوخته بود و جاي بود و باش نداشتيم موضوع را به مسؤول گروپ از طالبان عرض كرديم آنها ما را تسلي داده و فاميل ما را توسط موتر خويش به كابل انتقال داد اينجا هيچ مشكل نيست شكر الحمد لله امنيت است يك پسرم همراي فاميل اش در كوته سنگي زندگي ميكند بدون تشويش به آنجا ميرويم هر وقت كـه خطر جنگ به كلي از بين رفت باز به منطقه خويش بر مي گرديم.

معلم محمد گل باشنده قريه آكاخيل ولسوالي قره باغ چنين درد دل نمود: در چند سال كه افراد مسعود در منطقه حكمراني ميكردند ناموس جان و مال ما در خطر بود و ما راه نجات نداشتيم اكنون كه به فضل خداوند منطقه ما از تاثير مليشه ها خلاص شد ما به كابل كوچ نموديم هر وقتي كه افراد مسعود از تمامي شمالي گم شد و باز مرمي آنها به ما نرسد ما پس به منطقه خود ميرويم اينكه نطاق مسعود تبليغ ميكند ما را به زور و جبر كسي به كابل نياورده است اگر ما از مسعود خاطره اي خوب ميداشتيم همراي آنها به پنجشير ميرفتيم اينكه به كابل آمديم معلوم ميشود كه از آنها نفرت داريم.

د اسلامي امارت اقتصادي ...

پراختیا د مرکزي اداري د استازو او دغه راز د پلان وزارت د چارواکو په ګډون جوړه شوي وه د هیواد د یو لړ اقتصـــادي او تجارتي موضوعګانو په باب هر اړخیزي خبري وشوي او په دي برخه کي لازم تصمیمونه ونیول شول.

په شل کلن ځنډونه وروسته ...

په مرسته د افغانستان د اسلامي امارت د واکمني په تینګښت او په هیواد کي د امنیت

په تامین سره کابل پولي تخنیکي اړوندو استادانو په همکاري په دي بریالي شو چي په علمي کارونو کي له شل کلن ځنډ وروسته سږکال له برابر شوي پلان سره سم په عملي ساحه کي د درسي پلانونو د بشپړولو او پوره تحقق په خاطر د جیو لوجي محصلانو د اړوندو استادانو په لارښوونه د عینکو د مس کانونه وکتل چي په دي ترڅ کي د مس د ایستلو په برخه کي پوره علمي ځیړني وکړي

دغه راز د ساختماني او الکترو میخانیك پوهنځیو محصلانو د نغلو د برېښنا د بند د سرویي د اوبو د بند او د ماهیپر د برېښنا د بند دستګاوي وکتلي او د بندونو د جوړولو ځرنګوالي لومړني او وروستي تخنیکونه او توربینونه د برېښنا انرژي د ګټي اخیستني ظرفیتونه يي له نژدي وکتل او په دي اړوند يي بشپړ معلومات تر لاسه کړل.

د دربند په کلي ...

کیسودل شوه چي د بامیانو ولایت د امر با المعروف و نهي عن المنکر رئیس او د کهمرد د ولسوالي د شیعه خلکو یو شمیر شخصیتونه او مخور حاضر و ددغه جومات په جوړولو سره ددغي سیمي سلګونو تنو مسلمانو خلکو ته د لمانځه د ادا کولو زمینه برابریږي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتي	کلني
پاکستان	RS200	RS400
د خلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

اهداف امريكا در افغانستان از ديروز تا امروز

وقتي مزدوران روس در افغانستان در ۷ ثور ۱۳۵۷ دست به كودتا زدند امريكايي ها در برابر يك عمل انجام شده قرار گرفتند آنها از قبل با رد كمك به افغانستان در جريان پلان هاي پنجساله اين كشور تقريباً پذيرفته بودند كه افغانستان يك كشور تحت نفوذ اتحاد شوروي است و نيز به اين علت كه يكي از فقير ترين كشور هاي جهان بشمار مي آيد نمي تواند مورد توجه سرمايداران بين المللي قرار گيرد.

امريكايي ها سعي كردند تا با رژيم كمونيستي رابطه عادي بر قرار سازند علي الرغم حتي كشته شدن سفير آنان در كابل بدست كمونيست ها ي افغاني رژيم كابل در برابر اين واقعه، در سياست امريكا تغيير چنداني رونما نشد.

توجه امريكا زماني به افغانستان معطوف گرديد كه ملت مسلمان افغان با بر افراشتن علم جهاد دست رد بر سينه روسها و مزدوران داخلي آنان نهاد. امريكا از دور نظاره گر جريان بوده و باور نداشت كه ملتي با دست خالي بتواند رژيمي با پشتوانه حمايت يك ابر قدرت را در آستانه سقوط قرار دهد.

اما اين كار عملي شد روسها با تجاوز مستقيم به افغانستان در صدد نجات كمونيزم درين كشور بر آمدند و امريكايي ها نيز كه سخت مشتاق آن بودند تا در فرصتي مساعد انتقام شكست خويش در ويتنام را از روسها بگيرند، شانس طلائي را با تجاوز ارتش سرخ به افغانستان بدست آوردند.

امريكايي ها در ابتداء محتاطانه به ارسال اسلحه و امكانات به مجاهدين از طريق كشور هاي دوست پرداختند. آنها گمان نمي كردند كه مجاهدين قادر به شكست روسها باشند اما اين جنگ امكان مصروف ساختن اتحاد شوروي را در طويل المدت فراهم مي ساخت اما سر انجام روسها با اعتراف به شكست از افغانستان خارج شدند.

امريكا در جهاد افغانستان به اهداف بيش از حد انتظار دست يافت. اتحاد شوروي از ميان رفت و بخش بزرگي از اروپا و آسيا با بيرون آمدن از زير پرده آهنين و نظام اقتصاد سوسياليستي، مبدل به بازار بزرگ امتعه، غربي و صنعتي گرديد. بلاك شرق از هم پاشيد و يك ابر قدرت مضمحل شد اما كار امريكا هنوز با افغانستان به پايان نرسيده بود.

امريكا در دوران جهاد نه تنها با بنياد گراي اسلامي در افغانستان مخالفت نكرد بلكه در بسا موارد بيشترين كمك ها را به گروههاي بنياد گراي مجاهدين نمود ولي بعد از شكست و خروج قواي روس سعي نمود تا با همكاري روسها به رژيم نجيب امكان فرصت دوام، حيات را ميسر سازد. اين كار در شرايطي ممكن بود كه مجاهدين تضعيف گردند و اختلافات داخلي در ميان آنان گسترش يابد.

تلاش ها بر مجاهدين روز بروز بيشتر شد... تلاش در جهت بوجود آوردن يك حكومت به اصطلاح (وسيع البنياد) كه در آن عناصر ظاهر شاه و كمونيست هاي سابق و عده يي از عناصر مجاهد تنها در يك دولت ائتلافي به هم شريك گردند، شدت گرفت. سازمان ملل متحد با تلاش هاي بي حاصل و دادن امید هاي واهي به مردم، فقط وقت تلف ميكرد تا زمينه براي تحقق اهداف امريكا در افغانستان مساعد گردد و زمانيكه زمينه كار مساعد شد، نجيب از كار بر كنار و در عمارت سازمان ملل در كابل زنداني گرديد و حكومت ائتلافي متشكل از كمونيست هاي سابق و مجاهديني كه كمونيست ها قدرت را با آنها شريك شده بودند و بعضي از عناصر غربگراي مورد اعتماد غرب در كابل بوجود آمد هر چند حكومت جديد فقط در نام (دولت اسلامي) خوانده مي شد ولي هنوز اهداف امريكا براي ساختن يك نظامي مورد خواست خودش تحقق نيافته بود امريكا مي خواست به مسلمانان جهان تفهيم نمايد كه اسلام توان حكومت كردن بر جوامع را ندارد و حاصل جهاد اسلامي نيز چيزي جز جنگ داخلي و بدبختي هاي بيشتر نيست. به همين علت امريكا افغانستان را ظاهراً به فراموشي سپرد و كار به كار جنگ سالاران و تفنگداران شان كه هر روز صد ها نفر را در افغانستان مي كشتند و خانه هاي مردم را به آتش مي كشيدند نداشت.

با قيام تحريك اسلامي طالبان و بوجود آمدن امارت اسلامي در افغانستان كنترول اوضاع از دست امريكا خارج شد. امريكا اكنون مي بيند كه در نود و پنج در صد از خاك افغانستان صلح و امنيت و نظام اسلامي مستقر است و اگر جلو اين نظام گرفته نشود منافع امريكا در جهان به خطر جدي مواجه خواهد شد.

حمله موشكي سال گذشته به افغانستان به بهانه حضور اسامه بن لادن در خاك كشور ما و اعلام وضع تحريم هاي اقتصادي و سر انجام آمادگي هاي جديد امريكا براي حمله مجدد به افغانستان خود نشانه بارز از دست و پاچگي اين به اصطلاح ابر قدرت از استقرار نظام اسلامي در تحقق آرمان هاي جهاد در كشور ماست.

هدف ديگر امريكا اينست كه با حمله از طريق خاك پاكستان به كشور ما به علايق دوستانه و برادرانه ميان ملت هاي ما كه در دوران جهاد استحكام فراوان يافته است ضربه بزند اما مسلمانان پاكستان همدست و هم آواز با برادران مجاهد افغان خويش بر ضد اين دسيسه قد علم نموده اند و اهداف شوم امريكا به عون الهي و همت مجاهدين راه خدا ج، نقش بر آب خواهد شد. انشاء الله

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: **Abdurrahim Saqeb**
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Dawlati Printing Press